يا بلالُ، أقِمِ الصَّلاةَ، أرِحْنا بها». «اې بلاله، د لمانځه لپاره - اذان او - اقامت وکړه او مونږ پرې راحت کړه

له سالم بن ابي الجعد رضي الله عنه څخه روايت دی چې يو سړي وويل: کاش چې لمونځ مې کړی وای نو راحت شوی به وم، نو لکه چې دوی د هغه لپاره دا خبره عيب وګڼله او ملامت يې کړ، هغه وويل چې ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اورېدلي چې ويیل يې: «يا بلالُ، أقِمِ الصَّلاةَ، أرِحْنا بها». «اې بلاله، د لمانځه لپاره - اذان او - اقامت وکړه او مونږ پرې راحت کړه».

[صحيح دی] [ابو داود روايت کړی دی]

له صحابه و څخه يو سړي وويل: کاش چې لمونځ مې کړی وای نو راحت شوی به وم، داسې انګېرل کېده لکه چې چاپېره خلکو پدې خبره ملامت کړ، نو هغه وويل: ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اورېدلي چې ويیل يې: اې بلاله! د لمانځه لپاره اذان وکړه او لمونځ ودروه؛ تر څو پرې راحت شو، دا ځکه چې په لمانځه کې د الله تعالى سره مناجات کيږي او زړه او روح ته پکې سکون دی.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/65095